# د حزب اسلامي افغانستان مرام

# د حزب اسلامي افغانستان مرام

**ناشـــر:** حزب اسلامی افغانستان

**لومړی چاپ:** ۱۳۵۵

**اوسنی چاپ:** ۱۳۹۵

قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ * الانعام: ۱۶۲

ووایه: بې شکه چې لمونځ مې، قرباني مې، ژوند مې او مرگ مې د عالمیانو رب ته دي.

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَـئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّهُ إِنَّ اللّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ * التوبه ۷۰

او باایمانه نارینه او باایمانه ښځې؛ ځیني ئې د ځینو نورو دوستان دي، په معروف امر کوي، له منکر ممانعت کوي، لمونځ قائموي، زکات ورکوي او د الله او د هغه د پیغمبر اطاعت کوي، همدا کسان دي چې ډېر ژر به الله پر دوی رحم وکړي، یقیناً چې الله باحکمت عزتمن دئ.

وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ
وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ * آل عمران ١٠٤

او له تاسو دي داسي يوه ډله (جوړه شوې) وي چي د خير په لوري بلنه ورکوي، په معروف امر کوي او له منکر مخنيوی کوي او همدا دوی برياليي دي.

# فهرست


| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| سریزه | ۱ |
| عمومیات | ۵ |
| لومړی فصل | ۹ |
| د قانون په برخه کښي | ۹ |
| دوهم فصل | ۱۲ |
| مذهبي او اخلاقي اصلاحات | ۱۲ |
| دریم فصل | ۱۵ |
| د فرهنگ، ښووني او روزني اصلاحات | ۱۵ |
| څلورم فصل | ۱۹ |
| اداري نظـام | ۱۹ |
| پنځم فصل | ۲۲ |
| اقتصادي نظام | ۲۲ |

شپږم فصل ۳۲
باندنی سیاست ۳۲

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

حزب اسلامی افغانستان زموږ د هېواد داسي انقلابي او اصولي حزب دئ چي غواړي د انساني ژوند د سمون او ښه تنظیم په اړه هغه جامع او روښانه تګلاره چي اسلام وړاندي کړې په بشپړه توګه او له هر راز زیاتوالي او نقصان پرته پلې کړي.

دا حزب په دې باور دئ چي د انساني ژوند د ټولو بدمرغیو او کړاوونو د پای ته رسولو یوازینۍ لار د اسلامي سپیڅلي نظام تحکیم او تطبیق دئ، تر هغه چي د انساني ژوند په ټولو برخو کي اسلامي شریعت عملي او نافذ نشي؛ بشریت به تل په ربړونو او ستونزو کي راګیر وي، د ترقي او مخکي تګ لوړو پوړو ته رسېدل به ئې په هیڅ توګه او له هیڅ بلي لاري امکان ونلري. ګڼ شمېر تاریخي تجربې پر دې حقیقت شهادت ورکوي چي هر کله د بشري ژوند په کوم اړخ کي فساد او ورانی خور شوی؛ د دې وراني په خورونه کي دې لاندینیو اساسي او

بنيادي عواملو مهمه ونډه درلودلې:

الف: هلته له الهي احکامو او ديني لارښوونو انحراف او سرغړاوی شوی.

ب: د پيغمبرانو عليهم السلام لارښووني او هدايات د ژوندانه د نظام بنياد ندئ گرځېدلی.

ج: او هلته انسانانو د قيامت پر ورځې ايمان او پر الهي محاسبې باور له لاسه ورکړی.

په هره انساني ټولنه کې چې د ژوندانه محور د دې اصولو پر ځای د زر او زور خاوندانو د نفسي غوښتنو پر بنسټ څرخېدلی؛ هلته هرومرو د انصاف او عدالت ځای ظلم او تېري ته خالي شوی. تر هغه چې د الله تعالی اطاعت، د آخرت پر ورځې باور او د رسولانو عليهم السلام لارښووني د بشري ژوند اساس او بنسټ ونه گرځي د برابرۍ او انصاف اقامه امکان نلري. له دې اصولي اساساتو پرته که د هري عقيدې او مفکورې پر بنسټ د برابرۍ او عدل د منځ ته راتگ هره هڅه وشي هغه به هرومرو د يوه نوي ظلم او تېري په بڼه کې راڅرگندېږي.

زموږ په هېواد کې که څه هم په دې اصولو عقيده لرونکي خلك زښت ډېر دي، خو هغه عقيده او نظام چې دا قاطع اکثريت پرې باور لري په عملي توگه ندئ نافذ شوی او د دوی د ژوندانه ټول نظام د دې عقيدې پر بنسټ نه دئ قائم شوی، نو ځکه سره له دې چې زموږ هېواد

یو اسلامي هېواد دئ خو ولس د اسلام له معنوي او مادي اثراتو، ثمراتو او نعمتونو بي برخي پاته دئ، نه په خپله له اسلامي لارښوونو ګټه اخیستی شي او نه له نړۍ والو سره په دې اړه څه مرسته کولی شي.

دا حزب د دې لپاره رااوچت شوی چي په عملي توګه د مسلمانانو په ژوندانه کي د دوی د ژوند ټول معنوي ارزښتونه او اجتماعي او اقتصادي مناسبات د اسلامي اصولو پر بنسټ تنظیم او ښایسته شي، د اسلامي نظام نافذول، د اسلامي فکر خپرول، له ظلم، فساد، بي عدالتي، فحاشي، او د نوي او زاړه جاهلیت له بي لاریو او ورانکاریو سره نه ستړې کېدونکې مقابله د دې نهضت اصولي اهداف تشکیلوي. خو دا حزب په دې باور دئ چي ترڅو حکومت او حکمرانان اصلاح نشي هیڅ اصلاحي منصوبه په زړه پوري نتائج نشي درلودی. فاسد حکومتونه تل د اصلاحي هڅو او منصوبو په وړاندي ستر خنډ او د فساد او بي لاریتوب د ټولو عواملو ستر ملاتړي وي، د حاکمه نظام له اصلاح پرته نه په زړه پوري فردي اصلاح امکان لري او نه په ټولنه کي عدل او انصاف قائمېدی شي. حزب اسلامي به په دې برخه کي خپل ټول توان طاقت او ټول ممکن وسائل کاروي او ټول لازم اقدامات به کوي چي د حاکم نظام د بدلون او سمون په اړه اغېزمن ګامونه واخلي.

که وغواړو د دې حزب تګلاره او اهداف په څو لنډو کرښو کي خلاصه کړو نو داسي ئې وړاندي کولی شو:

۱- اسلامي اصولو ته بشپړ التزام، د راشدينو خلفاوو د منهج او تګلارې متابعت او اسلامي لارښووني، احکام او حدود په بشپړ ډول نافذول.

۲- د ظلم، تېري، ناروا استثمار او اخلاقي فساد ټولي بنې پای ته رسول، د الهي لارښوونو او اسلامي اصولو پر بنسټ د خلکو اجتماعي ژوند تنظيمول او د ژوندانه په ټولو اړخونو کي د عدل اقامه.

۳- له ټولو بديو او مفاسدو سره مقابله کول او ټولو نيکيو او ښېګڼو ته وده ورکول.

۴- د ټولني حاکم نظام داسي جوړول چي د خلکو خدمت ئې هدف وي او د اصولو او مقرراتو پلي کول ئې دنده، نه مطلق العنان واکمنان رامنځته شي او نه ديکتاتور او مستبد نظامونه.

۵- د وګړو اسلامي فکر، ديني ولولو او ايماني عواطفو او مشاعرو ته وده ورکول.

۶- د اسلامي فکر د پراخ نشر او خپراوي لپاره او په ټوله نړۍ کي د کلمة الله د اعلاء لپاره پوره زيار ايستل.

ومن الله التوفيق

# عمومیات

۱- دا یو منلی او پرېکنده حقیقت دئ چي افغانستان هغه اسلامي هېواد دئ چي د مسلمانانو د وینو په بیع جوړ شوی او د ساتني په لار کي ئې په سلگونو زرو مجاهدینو سرښندني کړې، په دې خاوره کي هر هغه سیاسي فعالیت چي وغواړي دا ټولنه په یوې غیراسلامي ټولني تبدیله او یا د داسي عقیدې او نظریې د خپروني او رائجولو لپاره هڅه وکړي چي د اسلامي لارښوونو او ارزښتونو خلاف وي دا به په واقعیت کي د افغانستان د موجودیت د پای ته رسولو ناروا هڅه او هاند وي، موږ به د یوه اسلامي تحریك او د دې هېواد د حقیقي ساتونکو په توگه د داسي مضرو غیراسلامي فعالیتونو په کلکه مخنیوی کوو.

۲- د افغانستان خپلواکي، یووالی او ارضي تمامیت ساتل د دې تحریك مهمه وجیبه دہ.

ټول هغه تحریکونه چي د دې خاوري د تجزیې لپاره ژبني، سیمه ییز، نژادي او طبقاتي تعصبات راپاروي زموږ له کلکي مقابلې سره به مخامخ شي. زموږ له نظره د دې خاوري د ټولو اوسېدونکو سلامتیا، د وطن خپلواکي او موجودیت هله تأمینېدی شي چي په ملت کي د پوره

يووالي او وروگلوۍ احساس ژوندی او مضبوط وساتل شي او په هېواد کي داسي اجتماعي عادلانه نظام قائم شي چي په هغه کي ټول ولس پرته له کوم ژبني، نژادي، منطقوي او طبقاتي توپير د وروڼو په څېر او په پوره ډاډ او اطمئنان سره ژوند وکړي، يوازي تقوا او خدای پالنه د فضيلت معيار وگڼل شي.

۳- زموږ له نظره تر هغه په افغانستان کي يو سم او مستحکم نظام نشي قائمېدلی چي دا لاندي مطالب په پوره اخلاص او صداقت سره ونه منل شي:

الف: څنگه چي د هېواد قاطع اکثريت مسلمانان دي او د اسلامي نظام د تحکيم او تعميل غوښتنه کوي بايد د دې نظام حاکميت په عملي توگه قبول کړی شي، که څوك له دې حقيقت سره موافق نه وي او په وطن کي د کوم غيراسلامي نظام د تسلط لپاره هڅي کوي داسي کسان د افغانستان د مسلمان ولس اصلي غليمان دي، له داسي ډلو سره کلکه مبارزه د هر مسلمان وگړي ايماني وجيبه ده.

ب: دا وطن د افغانستان د ټولو مسلمانانو گډ کور دئ او د کومي خاصي کورنۍ او قوم خصوصي ملکيت نه دئ، په دې اساس هيڅوك دا حق نلري چي د کوم استبدادي او مطلق العنان رژيم د رامنځته کېدو، ټينگښت او پايښت لپاره هڅه وکړي، په ملي مسائلو کي د ملت د حضور او شرکت مخنيوی وکړي او حکومت کول د ځان لپاره ځانگړی

میراثي حق او مال وګرځوي.

ج: په دې هېواد کي سیاسي زعامت باید د ولس د حقیقي استازو د لارښوونو او مشورو له مخي او له اسلامي اصولو سره سم د چارو جریان سمبال کړي، هغه سیاسي مشران چي د ملت د استازو اعتماد ئې نه وي ترلاسه کړی او د شرعي احکامو په بناء د چارو سمبالول نه وي ور په غاړه شوی؛ نشي کولی د شخړو او ګډوډیو مخه ونیسي او د وطن د لوړتیا او ترقي په اړه مثبت ګامونه اوچت کړي.

د: هر مسلمان فرد کولی شي او دا حق لري چي د قوانینو په محدوده کي او له مشروع وسېلو په استفادې سره خپله رأیه خلکو ته وړاندي کړي، په دې حق بندیز لګول خلك د بدلون او اقتدار لاسته راوړو نورو لارو غوره کولو ته مجبوروي چي هغه په یقیني توګه ملت ته په درانه قمیت تمامېږي.

هـ: د داسي سیاسي ډلو ټپلو د سیاسي هڅو او فعالیتونو په کلکه مخنیوی چي د افغانستان اسلامي هویت او حیثیت ته درناوی نه لري او په دې خاوره کي د کوم غیراسلامي نظام منځ ته راوړل غواړي او یا د افغانستان د سلامتیا او یووالي مخالفت کوي.

و: دا حزب د یوه داسي سیاسي او اجتماعي نظام د اقامې لپاره هڅه کوي چي د ژوند په مختلفو اړخونو کي به لاندي ارزښتونه، اصول او عملي منصوبې لري:

# لمړی فصل

# د قانون په برخه کي

۱- عظیم الشان قرآن او نبوي احادیث به په واضح او څرګندو الفاظو د ټولو قوانینو لومړنی مأخذ وي او په اجتهادي مسائلو کي به د حنفي فقهي مطابق عمل کېږي.

۲- یوه داسي مقتدره او باصلاحیته اداره به رامنځته کېږي چي ژر تر ژره ټول قوانین او لایحې د اسلامي لارښوونو له روحیې سره سم ترتیب او تنظیم کړي.

۳- قضائیه قوې ته به پوره صلاحیت او بشپړ استقلال ورکول کېږي او د نورو ادارو او واکمنو له هر ډول اغېز او تأثیر به آزاده وي. د قضاء منصب به یوازي هغو علماوو ته سپارل کېږي چي په تقوی او دیانت مشهور وي.

٤- د ژوند د ټولو چارو د اصلاح او سمون په موخه د اړوند اسلامي احکامو د تطبیق لپاره به ژر تر ژره لایحې جوړېږي.

٥- ټول هغه ظالمانه او جابرانه قوانین به لغوه کېږي چې حاکمه محافل د هغوی په وسیله د خلکو مشروع انساني حقوق او آزادي تر پښو لاندي کوي، د رأيي د څرگندولو مخه نیسي او په مشروعو تبلیغاتو او خپرونو ناروا بندیزونه لگوي.

٦- داسي قوانین به تصویب کېږي چې د هغوی په مرسته د اخلاقي فساد، زنا، شراب، قمار، فحاشي او اوباشي مخنیوی وشي او پر مفسدو رسنیو او مبتذلو او فاسدوونکو فلمونو، کتابونو، مجلو او رسالو بندیز ولگول شي.

٧- ښځي او نارینه به هڅول کېږي چې لباس ئې د شریعت له غوښتنو سره سم وي، شرعي حجاب مراعات کړي، د ښځو ټول شرعي حقوق به په قانوني توگه احیاء کېږي.

٨- د اسلامي اصولو په رڼا کي به د خلکو د اجتماعي ژوند او معاشرې د اصلاح او سمون لپاره اړوند قوانین نافذ کېږي.

٩- د عسکري ظالمانه حکومتونو د رامنځته کېدو امکانات به د تل لپاره پای ته رسول کېږي.

١٠- داسي قانوني اقدامات به ترسره کېږي چې د اضطراري حالت او نظامي حکومت اعلان او دوام او په داسي حالت کي د چارواکو اختیارات په معقول او ضروري حد کي تنظیم او تحدید کړی شي.

١١- نظامي محکمې او محاکمې به په بشپړه توگه له منځه ځي، د

عسکري افسرانو او نظامي افرادو محاکمه به هم یوازي د قضائیه قوې له لاري ترسره کېږي.

۱۲- د آزادو او عادلانه انتخاباتو له لاري به منتخبه ولسي جرگه منځ ته راځي، دا تدابیر به نیول کېږي چي ولسي جرگې ته یوازي اهل، صالح او بادیانت استازي لار ومومي.

۱۳- د محاکمو په لوائحو کي به داسي ترمیمونه او اصلاحات منځ ته راځي چي په هغوی سره د خلکو حقوقي لانجې او قضایا ژر تر ژره حل و فصل او له ځنډ پرته عادلانه قضاوت ترسره شي.

۱٤- د دولت چارواکي او د حکومت مأمورین به مکلف کېږي چي خپلي دندي او مسئولیتونه په امانت او دیانت سره ترسره کړي، او په خپل شخصي ژوند کي اسلامي احکامو او لارښوونو ته التزام ولري، هغه مأمورین چي خپل مسئولیتونه په سمه توگه نه اداء کوي او هغه چي د مؤاخذې وړ جرم مرتکب شي نه یوازي ترفیع به ئې ځنډېږي بلکي د لزوم په صورت کي به له خپلو دندو عزل کېږي.

# دوهم فصل

# مذهبي او اخلاقي اصلاحات

د گران هېواد د وګړو د مذهبي او اخلاقي وضعي د سمون او اصلاح لپاره مونږ لاندي منصوبې لرو:

۱۵- ټول ضروري او ممکن تدابير به نيول کېږي چي د لمانځه په څېر ديني فرائض په سمه توګه ترسره شي، دولتي مأمورينو او کارکوونکو ته به په دې برخه کي ضروري تسهيلات او آسانتياوي برابرېږي، د دولت هر غړي ته بايد ديني فرائضو ته اهتمام او توجه د رسمي دندو په پرتله لومړيتوب ولري.

۱٦- د شريعت له لارښوونو او غوښتنو سره سم به د مبارکي روژې بشپړ درناوی او التزام کېږي.

۱۷. خلکو ته به د حج فريضې اداء کولو لپاره کافي او لازمي تسهيلات برابرېږي او ټول ناروا خنډونه او بنديزونه به له منځه ځي.

۱۸- د جوماتونو هغه معنوي حيثيت او اغېز به يو ځل بيا احياء کېږي

چې د مسلمانانو په فردي او اجتماعي ژوند کي ئې درلود، د جوماتونو د امامانو، خطيبانو او متوليانو د مالي ستونزو حلولو لپاره به مناسب او ښايسته انتظامات کېږي.

۱۹- په لوړو اسلامي لارښوونو، تعليماتو، عقائدو او احکامو د خلکو د پوهاوي لپاره به زيار ايستل کېږي او دا هڅه به کېږي چې هر مسلمان لږ تر لږه د دين له هغو ضروري هداياتو خبر شي چې د يوه مسلمان په توګه د ژوند کولو لپاره د هغوی پيژندل او زده کړه په کار ده.

۲۰- ديني مدارسو او دارالحفاظونو ته به داسي منظمه پراختيا ورکول کېږي چې د علماوو او حافظانو د روزني مشکلات په ښه توګه او د هېواد دننه رفع شي او په هر ولايت کي خلکو ته د اسلامي تعليماتو زده کړه په وړيا او مناسبه توګه ميسره شي.

۲۱- له ټولو قانوني لارو چارو او د حکومت له ټولو امکاناتو او وسائلو په استفادې او په ټول توان طاقت به دا هڅه کېږي چې ټولنه له اخلاقي فساد او بديو پاکه او هغه اسباب او وسائل له منځه ولاړ شي چې په هغوی سره په ټولني کي اخلاقي فساد او جرمونه وده مومي.

۲۲- د ولس اخلاقي روزني او په ټولني کي د عام او مروج اخلاقي چلن د اصلاح په لړ کي به په پراخه پيمانه داسي اقدامات کېږي چې د هغوی په وسيله په خلکو کي له الله تعالی وېره او د الله تعالی د اطاعت او بندګۍ احساس راژوندی او لازيات پياوړی شي، خپل فرائض او

مکلفیتونه وپیژني، شرعي قانون ته د احترام او التزام ولوله او جذبه په کي تقویه شي او زموږ اجتماعي ژوند د اخلاقو داسي یوې لوړي کچي ته ورسېږي چي هلته د بدیو او بدکاریو مخنیوی او د اجتماعي مکلفیتونو اداء کول یوازي د قانون زور او ځواك ته اړ نه وي.

٢٣- د مساجدو ترمیم، د دیني علماوو او قاریانو روزنه، د امامت درنده وظیفه چا ته سپارل او د امامانو د مادي اړتیاوو رفع کول به د اوقافو مهمه وظیفه وي. د امام او مؤذن مادي تکالیف د خلکو په غاړه اچول د دین او اسلام سپکاوی بلل کېږي.

٢٤- دولت به مکلف وي چي مرتد عناصر د شریعت له حکم سره سم محاکمه او مجازات کړي.

٢٥- نامسلمان اقلیتونه به د شرعي احکامو مطابق له خپلو جائزو حقوقو مستفید وي او د دوی په اړه به شرعي لارښووني او احکام کاملاً مراعات کېږي.

# دریيم فصل

# د فرهنگ، ښووني او روزني اصلاحات

## د پوهني په ساحه کي:

موږ پوهني ته پاملرنه يو اساسي امر گڼو او په دې اړه لاندي پروگرامونه لرو:

۲۶- د پوهني او روزني د ادارو او پروگرامونو اوسنی حالت او بڼه کاملاً شاته پاته ده، دلته يوازي فني اشخاص تربيه او روزل کېږي؛ د محصلينو او زده کوونکو اخلاقي، روحي او ديني روزني ته اعتناء او پاملرنه کمزورې ده، په اوسنيو تعليمي مؤسساتو کي په پراخه پيمانه ذهني او فکري خلأ او تشه ترسترگو کېږي؛ د دې تشي په نتيجه کي هره پريوتې مفکوره کولی شي زموږ ټولني ته د نفوذ لار ومومي او وده وکړي.

ټول تعليمي نظام به داسي تنظيمېږي چي په هغه کي به د تعليم له لومړنيو تر وروستنيو مراحلو پوري دا په پام کي وي چي علمي مؤسسات داسي فني اشخاص وروزي او ټولني ته ئې وړاندي کړي چي

اسلامي ارزښتونو ته درناوی او التزام لري، په اسلامي پوهي سمبال وي، او د خپل ټاکلي فن له مشخصو ديني احکامو سره آشنا وي. همدا راز د تعليمي نظام په ټولو اوړدو کي به داسي ديني مضامين تدريس کېږي چي په زده کوونکي کي د خدای تعالی د اطاعت احساس ژوندی وساتي، تعليم به تش د علومو تر يادوني او لوستلو پوري محدود نه وي بلکي په هره څانگه کي به اخلاقي او روحي روزنه شامله وي، ترڅو ټولني ته متقي له خدای تعالی وېرېدونکي کارکوونکي وړاندي شي.

٢٧- په تعليمي مراحلو کي به په تدريجي ډول هر مسلمان زده کوونکی د اسلامي عقيدې او اسلامي ژوند له ضروري احکامو او هداياتو پوهه پيدا کوي او د قرانکريم له سم لوستلو به د هغه په معنی د پوهېدلو تر حده مخکي ببول کېږي.

٢٨- د علومو د پلټني او څېړني لپاره به په لوړه کچه د تحقيق او څېړني مؤسسات منځ ته راځي او د اسلامي علومو څېړني ته به په پراخه پيمانه توجه کېږي.

٢٩- داسي لازم تدابير به نيول کېږي چي د تعليم د پراختيا کار آسانه کړي او څوك د وسائلو نشت والي له کبله د زده کړي او تحصيل له ادامې بي برخي پاته نشي.

٣٠- د هېواد په ټولو گوټونو کي به د ښووني او روزني مؤسسات جوړېږي.

۳۱- د تعليم اوسنی گډ او مختلط نظام به چي هلكان او نجوني يوځای په تعليمي مؤسساتو كي روزل كېږي كاملاً له منځه ولاړ شي.

۳۲- په تعليمي ادارو او مؤسساتو كي به آزاده علمي فضا منځ ته راځي او پوهنتونونه به د تصويب شوې تگلاري په محدوده كي په بشپړ ډول خپلواكي ولري.

۳۳- د ښوونكو لپاره د ښه او سوكاله ژوند شرائطو او تسهيلاتو برابرولو په موخه به لازم اقدامات كېږي، د دې لپاره چي د ښه استعداد خاوندان دې لوري ته تشويق شي هغوی ته به كافي معاش ټاكل كېږي، د دوی معاشات به دې ته په پام سره ټاكل كېږي چي دوی ته د اوچتي كچي مرفه ژوند تأمين كړی شي.

۳٤- د ښوونكو د اساسي روزني په لور به خاصه پاملرنه كېږي چي له يوه پلوه وكولی شي تكړه استاذان شي او له بله پلوه د محصلينو او زده كوونكو اوچت اسلامي او اخلاقي تربيت په ښه توگه سرته ورسولی شي.

۳۵- د استاذانو په غوراوي او په وظائفو د هغوی د گمارلو په اړه به يوازي د دوی علمي اسنادو ته اعتبار نه وركول كېږي بلكي دا به هم په نظر كي نيول كېږي چي دوی د افغانستان د بنيادي اسلامي اصولو مخالف نه وي او د خپلو اخلاقو په لحاظ د نوي نسل د اخلاقي تربيې اهليت ولري.

۳٦- په تعليمي مؤسساتو كي به ضروري نظامي تربيت په نظر كي نيول

کېږي ترڅو ځوان نسل د وطن د دفاع لپاره چمتو وي.

۳۷- ټول تعلیمي نظام به په رسمي ملي ژبو وړاندي بېول کېږي. دا زيار به کېږي چي هر چا ته د دوی په مورنۍ ژبه ښوونه وشي او د غير رسمي ژبو د ودي لپاره به لازم تدابير نيول کېږي. د عربي ژبي زده کړې ته به خاصه پاملرنه کېږي.

۳۸- د علمي مؤسسو آمران به هغه مسلکي کسان مقررېږي چي په ديني علومو مجهز او د ديانت بېلگه او سمبول وي ترڅو زده کوونکي ترې عملي درسونه واخلي.

۳۹- عسکري قواوو ته به د اسلامي جهاد، ثبات، استقامت، وفا، صداقت، پوهي او درايت منظم درس ورکول کېږي او د حربي تجهيزاتو ترڅنگ به په اسلامي هداياتو او اخلاقو هم سمبال کېږي ترڅو د استبداد د لاس وسيله ونه گرځي.

# ثلورم فصل

# اداري نظـام

زموږ له نظره هيڅ ډول اصلاحي منصوبه تر هغه ګټوره او اغېزمنه نشي ثابتېدی چي د هغې د تطبيق لپاره سالمي اداري له باديانتو وظيفه پيژندونکو او بااهليته اشخاصو منځ ته را نشي؛ دې هدف ته د رسېدو لپاره موږ لاندي تګلاره لرو:

۴۰- له حکومتي ادارو به د بډي اخستلو، ټګۍ او قانون ماتولو د مخنيوي لپاره مؤثر او اغېزمن تدابير نيول کېږي. ټول هغه لازم وسائل به کارول کېږي چي په نتيجه کي ئې د خيانت او بډي اخستلو خطرناکه ناروغي خپره نشي؛ په ځانګړې ټوګه د دولتي مأمورينو په منځ کي.

۴۱- د هري اوچتي رتبې مأمور چي په لوړو دندو ګمارل کېږي د ټاکلو په وخت کي به د ده او د ده د نږدې خپلوانو مالي وضع کتل کېږي او بيا به ترپايه څارل کېږي چي په هغې کي دومره زياتوالی ونشي چي د دوی د روا او جائزو عايداتو په نسبت زيات توپير ولري.

۴۲- کوم مأمورين چي د خپل معاش په نسبت په اوچته سويه ژوند اختيار کړي او يا اضافي شتمني چي روا مدارك ئې معلوم نه وي ترلاسه کړي؛ سمدستي به ترې پوښتنه کېږي او له اساسي تحقيق وروسته به شرعي معامله ورسره کېږي.

۴۳- داسي اداره به جوړېږي چي د حکومتي مأمورينو د ظلم، تېري او د اختياراتو د بي ځايه استعمالولو مخه نيسي او په دې اړه به د دوی په خلاف دولس شکايتونه او اعتراضات اوري. د داسي ادارو لپاره به ځانګړي لوائح او قوانين تصويب کېږي.

۴۴- د رسمي ادارو د بي ځايه لګښتونو مخه به په کلکه نيول کېږي او ملي شتمني به له بې ځايه مصارفو ساتل کېږي.

۴۵- د دولتي مأمورينو لپاره به ټاکلی ملي يونيفورم غوره کېږي چي د رسمي وظائفو په وخت کي به ترې استفاده کوي، او هغه يونيفورم، علامې او نښانونه چي زموږ له ملي او اسلامي هويت او رواياتو سره اړخ نه لګوي او د پرديو او لوېديځ تمدن د نفوذ له کبله رائج شوي له منځه ځي.

۴۶- د جرمونو د تفتيش او پلټني په وخت کي به ټول هغه وحشيانه او ظالمانه کړني او چلن پای ته رسي چي نن سبا د پوليسی غير اسلامي نظام د مأمورينو کرغېړن او ناولي لاسونه پرې ککړ دي.

۴۷- د خفيه پوليسو او جاسوسي شبکو بي ځايه استعمالول به بندېږي، د

وېرې اچولو او وحشت فضاء به له منځه ځي او دا شبکې به د بدې خورو او رسمي مأمورينو د څارني او د جرمونو د مخنيوی په لارو کې کارول کېږي.

۴۸- په زندانونو کې د بنديانو سره ټولې ناوړي او وحشيانه کړني او تعامل به په قطعي او بشپړه توګه ختمېږي او د اسلامي اصولو او اسلوب سره سم به په هغه کې بدلون راځي، زندان به د مجرمينو او ورانکارو د تربيې او اصلاح مرکزونه وي چې هلته په ټولني کې د پتمن ژوند د تېرولو اهليت لاس ته راوړي.

۴۹- د مأمورينو په معاش کې به داسې ضروري زياتوالی راځي چې له کبله ئې له هېواد بهر ته د استعداد خاوندانو د تېښتې مخنيوی وشي.

۵۰- دولت به مؤظف وي چې د امنيتي ځواکونو افرادو او افسرانو ته مناسب او عادلانه معاش وټاکي او د نظامي خدمت لپاره هغه افراد په اوله درجه کې استخدام کړي چې پخپله خوښه او رضاء د نورو مشاغلو پرځای د جهاد اسلامي مقدس خدمت ته چمتو کېږي، د ملت د نورو وګړو نظامي روزني ته به هم خاصه پاملرنه کېږي او په دې ارتباط به مناسب تدابير نيول کېږي.

۵۱- د هېواد نظامي ځواکونو ته به داسې سالمه وده ورکول کېږي چې د هېواد د دفاع لپاره چمتو، مضبوط او ډاډمن دفاعي ځواك وي. په دې اړه به زياته پاملرنه کېږي چې د هېواد نظامي ځواك د استعماري

ځواکونو تر اغېز لاندي رانشي.

# پنځم فصل

# اقتصادي نظام

هغه اقتصادي اړيکي، تعاملات او مناسبات چي نن سبا زموږ د هېواد اقتصادي نظام پرې ولاړ دئ تر ډېره حده د ظلم، بي عدالتۍ، فقر او ژوري نابرابرۍ باعث دئ، دلته د غیراسلامي نظامونو ټولي ناروا وي، ظلمونه او فسادونه رایوځای شوي او د حکومت غلطي اقتصادي تګلاري دې خرابیو ته لاهم پراختیا ورکړې.

ترڅو په دې نظام کي بنیادي تحولات رانشي؛ امکان نلري چي عدل او انصاف قائم شي، دا بنیادي تحولات به هرومرو د اسلامي اصولو په رڼا کي رامنځته کېږي او د وګړو بنیادي حقوق به خوندي ساتل کېږي.

اسلامي لارښووني د اقتصادي نظام په اړه واضح او څرګند احکام لري او اسلامي فقهي په دې اړه پوره توضیحات کړي؛ زموږ اقتصادي نظام به په دې اساسي احکامو او څرګندو فقهي توضیحاتو ولاړ وي.

د اسلامي نظام اقتصادي سياست په دې اساسي موادو مشتمل دئ:

۱- د اقتصادي نظام په ټولو اړخونو کي د عدل او انصاف مراعات.

۲- د ظلم او ناروا استثمار ټولي بنې ختمول.

۳- ولس ته د کارکولو او ګټي اخستلو يو شان مناسب شرائط برابرول.

٤- د لوږي او فقر په ضد مبارزه او په دې لار کي پوره هڅه چي د هېواد هر اوسېدونکی د ژوندانه له لومړنيو انساني حقوقو بي برخي نشي.

٥- په ملي او اجتماعي شتمنيو کي عاملانه او عادلانه تصرف.

د پورتنيو اهدافو د ترلاسه کولو په اړه زموږ تګلاره په څلور برخو وېشل شوې:

## الف- کرهنه او مالداري:

له ډېري اوږدې مودې راهيسي چي په دې هېواد کي د يوه ظالمانه او غيراسلامي نظام د تسلط له کبله کومي لوږي ژوري او بي عدالتۍ رامنځته شوې دي او د زمکو د ملکيت او ګټي اخستلو بهير ته ئې د عدل او انصاف خلاف رنګ ورکړی؛ د دې بې انصافيو د ختمولو لپاره به شرعي اقدامات کېږي.

۵۲- د ملکيتونو هغه ناروا تصرف به د شرعي اصولو سره سم لغو او هغه به خپلو مستحقو کسانو ته سپارل کېږي چي زورواکانو غصب

کړې او د حکومتي ځواك د ناوړه او ناروا کارولو له کبله ئې د قدرت څښتنان د زور، ظلم او زياتي په نتيجه کي خاوندان گرځېدلي دي.

٥٣- دولتي ملکيتونه به بي زمکي بزگرانو او بيا هغو زمکه والو ته وړيا او په آسانو قسطونو ورکول کېږي چي له اقتصادي پلوه ئې د زمکي مقدار لږ دئ، په دې اړه به د اوليت حق د نږدې علاقې خلکو ته حاصل وي، لازم تدابير به نيول کېږي چي په ظالمانه او جابرانه توگه د غير مستحقو زورواکانو لاس ته ورنه شي.

٥٤- د کرهني په اړه به ټول هغه اسلامي قوانين او لارښووني مراعات کېږي چي اسلام زموږ مخي ته ايښي، او په دې لړ کي به ټولي غيراسلامي کړني او تصرفات پای ته رسي.

٥٥ — تر وسه وسه به دا زيار ايستل کېږي چي د دولتي زمکو د وېش په وخت کي هر بزگر او کروندگر ته دومره زمکه ورکړل شي چي د دوی پتمن ژوند تأمين کړی شي.

٥٦- دا هڅه به وشي چي د زمکي خاوندانو او بزگرانو ته د هغوی د حاصلاتو روا او معقول قيمت په لاس ورشي او د دوی يوه برخه فايده د منځگړي جيب ته ونه لوېږي په تېره بيا د پنبې په اړه.

٥٧- بزگرانو ته به د کرني په زړه پوري اوزار، وسائل، ښه تخمونه او سره تهيه کېږي.

٥٨- بزگرانو ته به بي له سوده تعاوني پورونه د مرستي په توگه ورکول

کېږي.

۵۹- د ځنګلونو د ساتني، پراختيا، ښه استعمال او له هغوی د مناسبي ګټي اخستلو لپاره به لازم تدابير نيول کېږي؛ خو د مال دارانو په څر ځايونو او د خلکو د ورځنيو اړتياوو د تأمين پر سيمو او ځايونو به قبضه نه کېږي.

۶۰- د کرهني وړ زمکي به د صنعتي او نورو مقاصدو لپاره نه کارول کېږي؛ مګر دا چي اسلامي لارښووني او اقتصادي غوښتني ئې د کارولو اجازه ورکړي.

۶۱- د مالدارۍ ودي ته به جدي او پوره توجه کېږي، د مالدارانو د تشويق لپاره به هغوی ته کافي آسانتياوي او تسهيلات برابرېږي او د څر ځايونو د حفاظت او ساتني لپاره به لازم اقدامات کېږي.

۶۲- په هېواد کي دخوراکي توکو د کموالي چاره به په لاندي طريقو سره کېدی شي:

الف. هغه د کرني وړ زمکي به کرني ته چمتو کېږي چي د نامعقولو وجوهاتو له کبله شاړي او وزګاري پاته شوې دي.

ب. شاړې زمکي به سمسوري او د کرني لپاره چمتو شي.

ج. د اوبو مهارولو، د ويالو ايستلو او بندونو جوړولو ته به خاصه او جدي توجه کېږي، ترڅو د کرني وړ زمکي او د شتي ترکرني لاندي راوستل شي.

د: د خوراكي موادو د توليد او پېر پلور په اړه به داسي لازم تدابير نيول كېږي چي له امله ئې د خوراكي توكيو د كموالي او گرانښت مخنيوی وشي، له يوې خوا كروندگرو ته د منلو وړ او مناسب قيمت په لاس ورشي او له بلي خوا ئې اخستونكي او مصرف كوونكي په مناسب قيمت ترلاسه كړی شي.

ه: د خوراكي او تجارتي توكيو د توليد تر منځ به انډول داسي وي چي له امله ئې د خوراكي موادو كموالی رامنځته نشي.

٦٢- په كليو كي به داسي لاسي صنائع وده مومي چي د بې وزلۍ او بې كارۍ كچه راټيټه او د كروندگرو په عائيداتو كي زياتوالی راشي.

## ب - تجارت او صنعت:

د تېرو حكومتونو د ناوړه او غيراسلامي تگلارو او سياستونو له كبله چي كومي شتمنۍ او ثروت د محدودو خلكو په لاس كي راكد پاته شوي او لا لگيا دئ په لازياته پيمانه او سرعت سره د همدې ټولگي په خزانو كي پنډېږي، د دې بهير د مخنيوي او په ملي گټو كي د كنز شوو پانگو د كارولو لپاره به لاندي تدابير نيول كېږي:

۶۳- سود، جواري، ناروا پېر پلور، احتكار او د مال د گټلو ټولي هغه ناروا او ناجائزي لاري چاري به قانوناً تحريم كېږي چي اسلام ئې حرامي گڼي او د شتمنيو دگټلو يوازي حلالي لاري به جائز گڼل كېږي، همداراز د هغو شتمنيو په اړه به د شريعت مطابق اجراءات كېږي چي

له ناروا او غیرشرعي لارو ترلاسه شوې.

۶۴- د فابریکو، شرکتونو او بانکونو انتظام به د شریکانو او برخه والو منتخبو استازو ته سپارل کېږي.

۶۵- د وړو او محدودو شرکتونو او کمپنیو د تشویق، توسیع او انکشاف لپاره به هغوی ته د تعاوني پورونو ورکولو تر څنګ نور لازم اقدامات هم ترسره کېږي.

۶۶- د صنعتي محصولاتو د نرخونو په ټاکلو کي به داسي تدابیر نیول کېږي چي نه مستهلك او نه د فابریکو خاوندان زیانمن شي.

۶۷- شرکتونه او فابریکې به مکلف کېږي چي ضروري سامان لکه ماشینونه او د اړتیا وړ صنعتي توکي تولید کړي او د غیرضروري او تجملي شیانو له تولید ډډه وکړي.

۶۸- په تجارتي معاملاتو او د صنعتي محصولاتو په تولید کي به د هېواد داخلي اړتیاوي تأمینول تر بل هر څه وړاندي په پام کي نیول کېږي.

٦٩- یوازي هغه صنائع به دحکومت تر کنترول لاندي وي چي حیاتي نقش لري او خصوصي برخي ته د هغوی سپارل ملي او اجتماعي ګټي زیانمنوي؛ له دې پرته موږ د نورو صنائعو د ملي کولو او د دولت تر اداري لاندي راوستلو پلوي نه یو.

۷۰- موجود بانکي نظام به هرومرو له اسلامي اصولو سره سم د

مضاربت او تعاوني همکاريو پر بنسټ اصلاح کېږي.

۷۱- موږ د ګران هېواد د دفاع په موخه د وسلو جوړولو صنعت ته زيات اهميت ورکوو.

۷۲- د مخکې تللو ثقيله صنائعو د ايجاد او د وړو صنائعو د انکشاف او پراختيا لپاره به لازم تدابير نيول کېږي او په دې اړه به د نورو هېوادو له تجربو اعظمي ګټه اخستل کېږي.

۷۳- موږ د دې پلوي کوو چې صنائع په متوازنه توګه او د هېواد په مناسبو سيمو کې پراختيا ومومي او يوازې په څو خاصو منطقو کې مختص او محدود پاته نشي.

۷٤- د هغو هڅو په بهير کې چې د هېواد د صنعتي کولو په اړه ترسره کېږي تر پانګې د (کار) او (ضرورت) دوو اساسي برخو ته به زيات ارزښت او اهميت ورکول کېږي.

۷۵. دولت به مکلف وي چې له خپلو داخلي صنائعو د بشپړ حمايت په موخه د هغو شيانو په واردولو بنديز ولګوي چې په داخل کې په کافي اندازه توليدېږي.

## ج – د ټيټ رتبه مأمورينو او کارګرانو حقوق:

۷٦- دمعاش اوسنی نظام له ګڼو اړخونو غيرعادلانه دئ، دا به په تدريجي توګه اصلاح کېږي، د معاشاتو په ټاکلو کې به تل دا مبرم ضرورت په پام کې نيول کېږي چې د شرائطو له بدلون سره سم او د

قیمتونو لوړېدو او کمېدو ته په پام سره تر ټولو ټیټ معاش هومره وي چي د یوې کورنۍ لومړنۍ ضروري اړتیاوي تأمین کړی شي. د قیمتونو له لوړېدو سره سم به په معاشاتو کي متوازنه زیاتونه کېږي.

۷۷- ټیټ رتبه مأمورینو او ملازمینو ته به دا تسهیلات برابرېږي چي د مسکن، درمل او د اولاد د ښووني او روزني په اړه د دوی ستونزي په ښه توګه رفع شي.

د صنائعو او فابریکو اړوند کارګرانو او مأمورینو د معاش په اړه به د دولت کړنلاره داسي وي چي د دې مرام د (۷۷) مادې له غوښتنو سره سم به دوی د فابریکو په ګټه کي د برخي څښتنان وي چي په دې توګه هم د خپل زیار مناسبه بدله ترلاسه کړي او هم فابریکه د ځان وګنې او مخکي تګ او انکشاف ته ئې اعتناء او التفات ولري.

۷۸- د کار، کارګر او پانګي په اړه به داسي قوانین تصویب شي چي د (پانګي) او (کار) ترمنځ د تعاون او یو له بل سره د مرستي پر بنسټ متوازني اړیکي ټینګي شي، او په هیڅ توګه د کارګرانو جائز حقوق تر پښو لاندي نشي، دا هڅه به کېږي چي د کارګرانو او د فابریکو د خاوندانو تر منځ د نزاع او اختلاف راولاړېدو په صورت کي د شخړو د حل و فصل اسلامي طریقه غوره او انصاف تأمین شي.

۷۹- حکومت به له دې ډېره او ممانعت کوي چي کوچني ماشومان د کار په موخه استخدام شي. د ماشومانو د سالمي ودي لپاره به لازم اقدامات

کوي.

۸۰- د ښځو او نارینه وو یو ځای کار کول به منع او په دې اړه به اسلامي اصول په کامله توګه مراعات کېږي.

۸۱- د ناروغتیا او هغو پېښو په صورت کي چي کارګران د کار په وخت کي له صحي او جسمي پلوه زیانمن شي؛ د دوی د علاج او درمل لپاره به مناسب انتظام کېږي او په هغه صورت کي چي د داسي پېښو له کبله د کار کولو امکان هم له لاسه ورکړي؛ منصفانه بدله به ورکول کېږي. د تقاعد په حال کي به هغوی ته په منظمه توګه مناسب تقاعدي معاش ورکول کېږي.

۸۲- د هر کارګر او کسبګر دا مسلم حق به قانوناً خوندي او تضمین وي چي خپل روا او جائز حقوق مطالبه کړي؛ دولت به په جدي توګه د خلکو د شکایتونو اورېدل او د دوی له حقونو دفاع خپل اساسي مسؤلیت او دنده ګڼي.

د شکایتونو د اورېدو په ارتباط به حکومت خپله تګلاره داسي تنظیموي چي د شکایاتو او اعتراضاتو د اورېدو کار ژر او په آسانۍ ترسره شي.

## د – عام اقتصادي اصلاحات:

۸۳- په دې اړه به لازم تدابیر نیول کېږي چي زکات، صدقات، عشر او نور شرعي واجبات.... د حکومت له لوري راغونډ او په خپلو شرعي

مواردو کي مصرف شي، هر هغه محصول او ماليه به په بشپړه توګه لغو کېږي چي شرعي اساس او مجوز نلري.

۸٤- د هېواد اقتصادي تګلاره او سياست به د خلکو د منتخبو استازو په مشوره ټاکل کېږي، او د شورى له بړېکړي وروسته به عملي او پلې کېږي.

۸۵- د دولت خزانه به له هر ډول حرامو عوائدو او مدارکو پاکه او سوچه ساتل کېږي.

۸٦- په حرامو او ناروا مواردو کي د ناجائزو پانګونو به په جدي او قطعي توګه مخنيوى کېږي، او پر هر ډول اسراف او بې ځايه لګښتونو به بنديز لګول کېږي، په ځانګړې توګه د مجللو حکومتي ودانيو پر جوړولو او محافلو بې ځايه لګښتونو.

۸۷- هغه عوامل او اسباب به پاى ته رسول کېږي چي د قيمتونو د تصنعي لوړوالي باعث وي.

۸۸- د بې کارۍ ختمولو لپاره به جدي او پرله پسې هڅه کېږي.

۸۹- داسي شرائط به رامنځته کېږي چي هر چا ته درملنه او معالجه په لږ لګښت ميسره وي.

۹۰- د روغتونونو او صحي مراکزو د تجهيز او پراختيا لپاره به لازم ګامونه پورته کېږي.

۹۱- د دې لپاره چي بې وزلي، له لاس، پښو، سترګو او روغ بدن محروم

وګړي سوال کولو ته اړ نه شي؛ دوی ته به له بیت المال دومره مرسته کېږي چي لباس او طعام ئې تامین شي. دوی به تر منظمي روزني او تربیې لاندي نیول کېږي.

# شپږم فصل

# باندنی سیاست

د بهرني سیاست په ډګر کي به د کورني سیاست په څېر داسي اساسي تصرفات کېږي او داسي تګلاره به غوره کېږي چي د اسلام پر ځلاندو لارښوونو او اصولو ولاړ او د هېواد اسلامي بنسټونه او ګټي ئې غوښتونکي دي، په دې اړه د حزب اسلامي تګلاره پر لاندینیو اساسي ټکو مشتمله ده:

۹۲- موږ به د حق او عدالت د تحقق لپاره د مبارزې بیرغ تل اوچت او رپانده ساتو او د زور، ظلم او زیاتي سره به په کلکه مبارزه کوو.

په خپلو بهرنیو اړیکو او تعاملاتو کي به پر رښتین والي او صداقت ټینګار کوو او نورو ته به هم د صداقت او رښتینولۍ سپارښتنه کوو.

۹۳- موږ په نړۍ کي د صلحې او امنيت جدي او رښتيني پلويان يو، د تحقق لپاره ئې قربانيو او فداکاريو ته چمتو يو، خو موږ يوازي د جنگ نشتوالي ته صلح او امنيت نه وايو، زموږ له نظره يوازي د جنگ نشتوالی د واقعي صلحي او امنيت معنی نه افاده کوي، بلکي هغه حالت ته د صلح او امنيت نوم ورکوو چي د حق او عدالت موازين په ټولي نړۍ کي تأمين شي او د ملتونو خپلمنځي اړيکي د عدالت او برابرۍ ضامني او د هېوادونو تر منځ داسي مساعده فضاء رامنځته شي چي له زور او زياتي د راولاړو شوو شخړو، لانجو او مشاجراتو ټغر ټول شي او هيڅوك د دې توان ونه لري چي د نورو پر جائزو حقوقو تېری وکړي، د دوی د مخکي تگ او هوسايۍ په وړاندي خنډ شي او ستونزي او مشکلات ورته راولاړ کړي.

مسلماً چي دې ستر او سپېڅلي هدف ته رسېدل هلته ممکن دئ چي اسلامي نظام د انساني ژوند د سمون او او تنظيم لپاره عملاً ومنل شي.

۹٤- موږ د استعمار، استثمار او استبداد ټولي بنې په کلکه غندو، د استعماري نظام ادامه د عدل او انصاف له مقتضياتو سره متصادم گڼو او د استعماري ځواکونو مظالم او تېري؛ په نړۍ کي د ټولو شخړو، اختلافاتو او ناامنيو اصلي عامل گڼو.

۹۵- له شرقي او غربي، تور او سور استعمار سره يو شان مبارزه د ټولو

وګړو اساسي وظيفه شمېرو او د پای ته رسولو لپاره ئې خپل ټول توان او ځواك كاروو.

۹٦- هغه وروسته پاته او مظلوم ملتونه چي په يوې او بلي بڼي كي د ظالمو او استعماري ځواكونو په منګولو كي راګير دي؛ د اسلامي اصولو او لارښوونو سره سم به زموږ له ملاتړ او حمايت برخمن وي، په ځانګړې توګه هغه مسلمان ملتونه چي استقلال او موجوديت ئې د ظالمو، تېري كوونكو او استعماري ځواكونو له لوري ګواښل كېږي.

۹۷- موږ د نړۍ له ټولو ملتونو سره د متقابل درناوي، نېك تعاون او صادقانه ملګرتيا او دوستۍ ښې اړيكي غواړو، خو د حسنه اړيكو قائمولو تر نامه لاندي داسي تائيد، ملاتړ، دوستي او تړون نه غواړو چي د پرديو فرهنګي يرغل ته لار پرانيزي او زموږ له اصولو او عقائدو سره په ټكر كي وي، دې ته هم هيڅكله تيار نه يو چي له نورو سره د نېكو اړيكو قائمولو په بدل كي له خپلو اصولو تنازل وكړو او زموږ ملي ګټو ته زيان ورسوي، يا داسي تړون زموږ پر آزادۍ او خپلواكۍ ناوړه اغېز وكړي، اسلامی مناعت دا اجازه نه وركوي چي له كوم هېواد سره زموږ اړيكي داسي تنظيم شي چي له كبله ئې منحرف افكار او ګنده اخلاق زموږ هېواد ته لار پرانيزي او د هېواد دروازې د نورو د فرهنګي يرغل په وړاندي پرانستل شي. هيڅكله به اجازه ورنه كړو چي افغانان د نورو د فرهنګي يرغل مبلغين شي، د پرديو د فرهنګ او كلتور خپرولو او

رائجولو دنده پر غاړه واخلي.

۹۸- په بین المللي نظامي ائتلافونو کي له شاملېدو ډډه کوو، نه غواړو زموږ هېواد د استعماري ځواکونو په خپلمنځیو رقابتونو او مسابقو کي برخه واخلي.

۹۹- په نړۍ والو قضایاوو کي به دولت هیڅکله داسي معاهدې، تړونونه او پرېکړي ونه مني چي له اسلامي نصوصو سره مغایرت ولري او زموږ خپلواکي ترې اغېزمنه شي.

۱۰۰- له اسلامي نړۍ سره د ورورګلوۍ او دوستانه علائقو قائمولو لپاره به په جدي توګه هڅه کوو، د دې لپاره به په صادقانه او ستړیا نه منونکې توګه هاند او ټینګار کوو چي اسلامي هېوادونه د مشترکو اهدافو پر محور سره رانږدې شي او د دې غوښتونکي یو چي په اوسنیو شرائطو کي د اسلامي نړۍ د عزت، ثبات او پایښت لپاره د مسلمانانو تر منځ د یووالي، وحدت او اخوت احساس راژوندی شي. په لاندینیو مواردو کي د اسلامي ملکونو ګډ دریځ ضروري ګڼو:

الف: د اسلامي تهذیب او مدنیت احیاء او د غیر اسلامي تهذیب د نفوذ مخنیوی.

ب: د وسلو جوړولو په صنعت کي ګډه پانګونه او دې لوري ته دومره پاملرنه چي له امله ئې اسلامي هېوادونه د وسلو له پلوه پر ځان بسیا کړي.

ج: عربي ژبه د مسلمانانو د بین المللي ژبي په توګه په رسمیت پیژندل او د عامولو او په پراخه پیمانه خپرولو لپاره ئې ګډي هڅي.

د: د اسلامي هېوادو د لانجو، شخړو او کشالو د حل و فصل لپاره با صلاحیته نړۍ واله اسلامي محکمه جوړول.

ه. د اسلامي هېوادو تر منځ د تګ راتګ آسانه شرائط برابرول.

و. په خپلو منځو کي د مالي راکړي ورکړي او تجارت پراختیا او انکشاف لپاره لازم تدابیر نیول.

ز: په مختلفو ملکونو کي له هغو مسلمانو اقلیتونو سره اساسي او کافي مرسته چي تر ظلم او تجاوز لاندي شپې او ورځي تېروي.

و من الله التوفیق

إِن يَنصُرْكُمُ اللّهُ فَلاَ غَالِبَ لَكُمْ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا الَّذِي يَنصُرُكُم مِّن بَعْدِهِ وَعَلَى اللّهِ فَلْيَتَوَكِّلِ الْمُؤْمِنُونَ* آل عمران: ١٦٠

که الله مو مرسته وکړي نو هیڅ غالبېدونکی (حریف ځواك) نه لرئ او که مو یوازي پرېږدي، نو هغه به څوك وي چي له ده وروسته مو مرسته وکړی شي؟ او مؤمنان خو باید پر الله توکل وکړي.

إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ إِنَّ اللّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيراً* النساء: ٥٨

یقیناً چي الله تاسو ته د دې امر کوي چي امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله چي د خلکو ترمنځ پرېکړه کوئ نو په عدل سره پرېکړه وکړئ، بې شکه چي الله په ډېر غوره څه تاسو ته نصیحت کوي، یقیناً چي الله بصیر اورېدونکی دئ.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُواْ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُواْ إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُواْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلاَلاً بَعِيدًا * النساء: ٦٠

آيا هغه دي ونه ليدل چي گمان کوي هم پر هغه څه ايمان لري چي پر تا نازل شوي او هم پر هغه څه چي تر تا د مخه نازل شوي، خو غواړي چي د تحاکم لپاره طاغوت ته ورشي، حال دا چي ورته امر شوی چي له هغه به انکار کوي او شيطان غواړي چي په ژوري تېروتني سره ئي تېرباسي.

فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا* النساء: ٦٥

نو نه؛ ستا په رب قسم چي تر هغه ئې ايمان نه دئ راوړی چي تا په خپلمنځيو شخړو کي حکم ونه گرځوي، بيا ستا د پرېکړي په اړه په خپلو زړونو کي تنگوالی ونه مومي او په بشپړه توگه تسليم نشي.